PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او باید له تاسې څخه یوه ډله وي چې د خیر په لور بلنه کوي په نیکی امر کوي او له بدی څخه منع. او همدغه خلک خلاصېدونکي دي. او دهغو خلکو په شان مه کېږئ چې د ښکاره دلیلونو له راتګ وروسته جلا جلا شول او اختلاف یې وکړ. او همدغو خلکو ته لوی عذاب دی.

(سورة آل عمران : ۱۰۴ - ۱۰۵)

درس حدیث

از ابو ذر و معاذ بن جبل رضی الله عنهما روایت است که:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود، از خدا بترس هر کجایی که بودی و در مقابل بدی نیکی کن تا آنر محو نماید، و با مردم به شیوهٔ نیکو و اخلاق حسنه رفتار کن. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ۱۵ مه ګڼه، پرله پسې ۱۲۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د چنګاښ ۲۸ مه د۱۴۳۳ هـ ق د شعبان المعظم ۲۸ مه د۲۰۱۲ م د جولای ۱۸ مه

د چنګاښ ۲۲ مه کابل د یوې سترې او تاریخي غونډې شاهد و

عبدالله کامه وال

ما به یک افغانستان اسلامی، مستقل، آزاد، قوی، باثبات و دارای حاکمیت ملی باور داشته ودر این رابطه هیچ نوع انعطاف را نمی پذیریم – ارغندیوال

خلورم مخ

حزب اسلامی افغانستان تصمیم نیولې چې د سولې او ټیکاو د منځته راوړلو د شفافو او ملت ته د باور وړ ټاکنو او نورو مهمو ملي مسایلو په اړه له سیاسي احزابو سره خپلې مشورې شریکې کړي – انجنیر محمد خان

په کومه ټولنه کې سوله، ثبات او امن نه وي هلته به د انسانانو مادي او معنوي حقوق پیمال وي، خو زموږ ولس له دریو لسیزو راپدېخوا ددې لوی الهي نعمته بې برخې دی – مولانا لودین

حزب اسلامي ویاړي چې هېڅ فرد یې نه په روان اداري فساد کې لاس لري او نه په ۳ میلیونه جریبه غصب شوو ځمکو کې شریک دي او نه یې ملي شتمني غصب کړې – اقبال صافي

قاضي حسین احمد:

پاکستان باید له امریکا سره همکاري وکړي

کابل، رسنی:

د پاکستان د جماعت اسلامي ګوند مشر قاضي حسین احمد د دوشنبې په ورځ وویل چې حکومت یې باید له افغانستانه د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې د ناټو ځواکونو په وتلو کې د اسانتیا د برابرولو لپاره د امریکا له متحدو ایالتونو سره همکاري وکړي.

قاضي حسن احمد په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو حضور په سیمه کې د شخړو او کړکیچ د دوام اصلي عامل وباله.

د جماعت اسلامي ګوند مشر، چې له خبریالانو سره رغېده، وویل:«تر هغو په سیمه کې سوله نه شي راتلای چې امریکایي پوځیان له افغانستانه نه وي وتلي. له همدې

پاتې ۴ مخ

تا چند سال دیگر افغانستان از کشورهای قدرتمند منطقه خواهد بود

کابل، رسانه ها:

رییس جمهور کرزی می گوید، تا چند سال دیگر افغانستان از کشورهای قدرتمند در منطقه خواهد بود. به گفتهٔ آقای کرزی حالا افغانستان جایگاهٔ خود را در میان کشورهای جهان دریافته است. وی همچنان تاکید کرد که افغانستان پس از ۱۰ سال کاملاً به پای خود ایستاد خواهد شد.

از سوی دیگر حامد کرزی می گوید که دشمنان افغانستان مانع ترقی و پیشرفت این کشور شده نمی توانند. به باور رییس جمهور کرزی استخراج معادن دست نخوردهٔ افغانستان در سال های پیشرو عاید این کشور

بقیه در صفحه ۴

واشنګټن پوست:

د پاکستان جغرافیایي هدفونه نه منل کېدونکي دي

کابل، رسنی:

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په خپله سرمقاله کې د پاکستان له لورې په افغانستان کې د ناټو ځواکونو د اکمالاتي لارې د پرانستلو په اړه په تبصره کې ویلي چې د پاکستان له لورې د لارې بندولو او پرانستلو یو حقیقت روښانه کړاو هغه دا چې امریکا په نږدې راتلونکي کې له پاکستان سره هغه ژوره همکاري نه شي کولی چې د اوباما حکومت یې یو وخت تمه لرله.

د واشنګټن پوسټ په نظر د دې وجه د امریکا له لورې د مناسبې ډیپلوماسۍ نشتوالی، د بې پیلوټه الوتکې حملې او د اسامه بن لادن پرضد عملیات نه دي بلکې لوی خنډ د پاکستان غیرفعال سیاست دی.

واشنګټن پوسټ زیاتوي، پاکستان د شخړو، فاسدو او ناپوهو سیاستوالو او د یو داسې پوځ په منځ کې وېشل شوی چې پر تروریستانو تکیه کوي او د نه منلو وړ او نه ترلاسه کېدونکي جغرافیایي – سیاسي هدفونه لري.

ورځپاڼې د پاکستان کورنیو ستونزو ته اشاره کړې او د سترې محکمې او ملکي حکومت ترمنځ د لانجې، د برېښنا د پرچاوې په خاطر

پاتې ۴ مخ

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د تقوی میاشت

راځئ د روژې په دې میاشت کې د تقوی پسرلې راولو

لوی الله جل جلاله پخپل سپېڅلي کتاب قرآن کريم کې د روژې په اړه فرمايلی دي چې دا د مخکنيو امتونو په څېر پر مسلمانانو هم فرض ده تر څو تقوی او پرهيزګاري ترلاسه کړي. مطلب دا چې د الله تعالی له لوری پوره يوه مياشت د روژو نيولو ستر مقصد او موخه تقوی او له الله نه ويره ښودل شوې ده. هر مسلمان ته پکار دي چې د ژوند په ټولو شيبو کې ټول عمر يواځې او يواځې له يو الله نه وويرېږي او خپلې ټولې کړنې دهغه جل جلاله د قانون په مطابق ترسره کړي، د يوې شيبې لپاره هم د الله تعالی له الوهيت، عظمت او کبريايي نه بې پروا نه شي، که احياناً چېرته د يو چا په تقوی کې څه کمی او ضعف راشي نو د کائناتو خالق ددې د غښتلي کولو لپاره روژه د لوی سرچينی په توګه ښودلې ده.

په حقيقت کې د ايمان او د اسلام اصلي نچوړ تقوی او له الله نه ويره ده، هغه خلک چې د تقوی له ستر نعمت څخه محروم دي هغوی اصلاً د ايمان او اسلام له اصلي روح نه عاري دي، ايمان او اسلام له تقوی پرته هسې بې روحه سکليټ دی چې هېڅ ګټه وربانديې نه مرتب کېږي څکه چې الله تعالی په خپل مبارک کتاب قرآن حکيم کې په څرګندو ټکو کې فرمايلي دي چې:

اې مؤمنانو ! ستاسې د قربانۍ غوښې او وينې ماته نه رسېږي بلکې ستاسې تقوی او د زړه نيت رسېږي (چې په کوم نيت مو کړی دی يواځې زما د خوښې لپاره او که د نورو غرضونو لپاره؟ !)

الحمدلله د افغانستان مسلمان ولس هم هر کال دا فرضي روژې په ډېر شوق او ذوق نيسي او په دې مياشت کې د نورو مياشتو په پرتله خيراتونه، صدقې او نور ډېر د نيکۍ کارونه هم ترسره کوي خو دا يواځې د روژې تر مياشتې پورې منحصرې وي، ددې مياشتې له ختمېدو سره سم تقوی او د خېرښېګڼې کارونه هم کډه کوي، په داسې حال کې چې د روژې نيولو مقصد دائمي تقوی ترلاسه کول ښودل شوې چې د ژوند په هره شيبه کې بايد ورسره ملګرې وي.

دا څو لسيزه کېږي چې د افغانستان مسلمان ولس د بې اتفاقی، حسد، قوميت، ژبې او رنګ پرستی په اور کې سوځېږي، د يو بل د وژلو پلانونه جوړوي، ظلم، ناانصافي، ناامني، خيانت، غدر، فساد، بډې اخستنې، غصب، چور چپاول، بهتان، د نشه يي توکو استعمال او نور ناروا کارونه خپل وروستي پولو ته رسيدلي دي.

هر کال چې د روژې مبارکه مياشت راورسېږي نو د روژو تر څنګ تلاوتونه، په مسجدونو کې د تراويح لمونځونه او د قرآن کريم ختمونه خو کېږي، مګر متأسفانه د روژې اصلي نچوړ او خلاصه چې تقوی ده په ټولنه کې نه ليدل کېږي زياتره سياسي مشران، حکومتي لوړ پوړي او ټيټ پوړي چارواکي، واليان، وزيران، ولسوالان، قاضيان، رئيسان، ښاروالان، تجاران، د کانداران وغيره ټول د خپلو خپلو نفساني خواهشاتو په غلامي کې اخته وي، تراوسه دولت او دهغه مخالفين د پخوا په څېر پخپلو دريځونو ولاړ دي، هېڅوک دېته نه چمتو کېږي چې له خپلو ناروا کړنو او دريځونو څخه لاس په سر شي، د ملت د وينو له څکلو نه توبه وباسي، د يو بل د وژلو او ځورولو څخه ډډه وکړي له قومي، ژبني، مذهبي، سمتي او سياسي تعصبونو څخه لاس په سر شي، د بيت المال له بې ځای تصرف څخه پرهيز وکړي، کارونه د کار وړ کسانو ته وسپاري او له هر ډول خيانت څخه لاس واخلي.

دا چې هر کال روژې نيول کېږي او زموږ په کړنو کې د تقوی عملي بېلګه نه ليدل کېږي دا په دې دلالت کوي چې زموږ روژې د تقوی د ترلاسه کولو لپاره نه بلکې د يو ظاهري عادت د ترسره کولو لپاره دي چې زموږ په ټولنيز ژوند کې هېڅ مثبت بدلون نه شي راوستلی، په داسې حال کې چې تقوی او پرهيزګاري پر انساني ټولنه خامخا مثبته اغيزه شيندي، د بدی او ټولو ناروا عملونو جرړې وباسي، د خزان پر ځای پسرلی، د غمونو پر ځای خوشالي او د ناکاميو او نااميديو پر ځای د برې او هيلو غوټۍ سپړي.

راځئ موږ ټول سږنی او راتلونکې روژې هسې د عادت د پوره کولو پر ځای نور د تقوی د ترلاسه کولو په نيت ونيسو، له خپل پالونکي ذات سره کلکه ژمنه وکړو چې د روژو د نيولو کوم مقصد چې تا پخپل سپېڅلي کتاب قرآن کريم کې د لعلکم تتقون په فرمايلو سره بيان کړی دی د همغه د ترلاسه کولو لپاره نيسو، په همدې سږني روژه کې ټول افغانان پخپلو کې يو بل ته د وروری لاسونه ورکوو، له خپل ځانه جوړ کړي د تعصب او د فساد ټول شيطاني ديوالونه نړوو، ټول په ګډه د الله جل جلاله او دهغه د رسول محمد صلی الله عليه وسلم شريعت ته غاړه ږدو، يو شعار او يو دريځ خپلوو، د خپل ولس تر څنګ د ګرد انسانيت د نجات او د خپلې خاورې د ښيرازۍ لپاره په بشپړ اخلاص ملا تړو او دا اثبات ته رسوو چې موږ روژې د تقوی د ترلاسه کولو لپاره نيولې، نه عادت لپاره، څکه چې تقوی زموږ د مسلمانې ټولنې اساسي ضرورت دی او يواځې د همدغې تقوی له لارې د دنيا او آخرت دواړه سرلوړي او خوښي ترلاسه کولې شو.

تقوی زموږ د برې ضامن، او فساد زموږ د هلاکت او تباهي باعث دی.

نه ښايي د تقوی او د الله د رضا د ترلاسه کولو دغه ستر او قيمتي فرصت له لاسه ورکړو او د الله جل جلاله د مهرباني، رحمت او مغفرت نه خپلې خولې تشې يوسو، لوی الله دې زموږ همدا سږنی روژې زموږ د افغانانو د سرلوړی، سولې، اتفاق، يووالي، تقوی او پرهيزګاری مياشت وګرځوي او هېواد مو د تقوی د پسرلي په ښکلو ګلونو ښکلی کړي.

(آمين يا رب العالمين)

متن سخنرانی عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان در اجتماع بزرگ کابل

له حمد او ثناء وروسته:

ډېرو قدرمنو د ولس استازو وکيل صاحبانو، سناتور صاحبانو، د افغانستان د اسلامی دولت د کابينی غړو وزير صاحبانو، د سولې د عالي شوری رئيس محترم صلاح الدين رباني، محترم ورور ډاکتر عبدالله عبدالله، معين صاحبانو او والی صاحبانو، په کابل کې د بهرنيو هېوادونو قدرمنو سفيرانو، سياسي، ملي، فرهنګي او جهادي شخصيتونو او د حزب اسلامي افغانستان قهرمانو مجاهدينو، پر مبارک اسلام او ګران هېواد مينو ورونو، د مقدس جهاد د شهيدانو، کونډو، بورو، ورارو او د بې وزلو يتيمانو وارثانو، مشرانو او کشرانو، خويندو او ورونو !

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

تر هر څه لومړی تاسې ټولو ته چې د کابل او بېلابېلو ولسواليو، ګاونډيو ولايتونو او د ګران هېواد له هرې برخې او سيمې نه مو ننۍ غونډې ته تشريف راوړی، زحمت مو ګاللی د زړه له کومې درته ښه راغلاست وايم، هر کله راشئ قدمونه مو زموږ په سترګو او ليمو.

قدرمنو ورونو ! راځئ چې د مقدس جهاد د دوران دهغو پاکو او سپېڅلو شهيدانو ارواح ته د لوی خدای جل جلاله په دربار کې لاسونه لپه کړو چې د ګران هېواد افغانستان د خپلواکۍ او د الهي کليمې د لوړوالی لپاره يې خپل سرونه نذرانه کړي دي.

خداوند عزيز را سپاس گذارم که فرصت ميابم تا در اين اجتماع برزگ و مخلصانه که رهروان راه اسلام خدا از همه اکناف و اطراف افغانستان جمع شده است حضور پيدا ميکنم و لحظات چندی را در کنار عزيزانی هم عقيده و هم فکرم که دارائی درک و درد مشترک اند سپری مينمايم باور کنيد اين از بهترين لحظات زندگی من است.

درست بخاطر دارم که در زير همين سقف خيمه لوی جرگه و پوهنحی پولی تخنيک کابل اولين جلسه بزرگ حزب اسلامی را داير کرده بوديم و در همين جا در محضر شما عزيزان همه تعهد سپرديم تا به مبارزه برحق ما در جهت حاکميت قانون خدا ونجات ملت ما و تحقق آرمان های شهدا گلگون کفن ما، معيوبين، يتيمان و بيوه ها و بلاخره ملت رنجديده افغانستان از هيچگونه سعی و تلاش دريغ نورزيم، و اين بار هم جمع شده ايم تا تجديد تعهد نمايم در اين جمع بزرگ واين مجلس پرميمنت.

در همين جا ياد از شهدا عزيز ما و در رأس شان از انجينير حبيب الرحمن نموديم چون پوهنحی پولی تخنيک که پايگاه روسها و ظهور انديشه های کمونيزم بود به سنگر عقيده و فکر اسلامی حبيب الرحمن و ياران اش مبدل گرديده بود حبيب الرحمن نه تنها حبيب الرحمن بود حبيب بندگان مومن افغان نيز بود و در رسيدن به هدف تا پای جان مبارزه کرد و بلاخره جام شهادت نوشيد و نامش به عنوان اولين شهيد نهضت اسلامی همراه با ساير شهدای عزيز ما ثبت تاريخ پر افتخار اين سرزمين شهيد پرور گرديد. پس جا دارد همانطوريکه در ان زمان به روح پاک شهدا دعا کرديم و از خداوند بر ايشان جايگاه عالی در بهشت برين طلب نموديم از آن زمان تا الحال تعدادی ديگر از برادران ما به شهادت رسيده اند و امروز در جمع ما نيستند چون معلم صاحب عبدالرحمن شهيد، مولوی صاحب هاشم شهيد وده ها و صد ها شهيد ديگر پس بيايد همه با هم دعا کنيم که خداوند شهادت های ما را مقبول در گاه خويش قرار دهد و به شهدای ما جنات فردوس و به بازماندگان شان صبر و استقامت و به ما همت ادامه راه آنها را اعطا بفرمائيد. روح شان شاد و راه شان پر رهرو باد.

در نخست ازهمه برادران و خواهرانيکه در تدوير اين اجتماع بزرگ زحمت کشيده و تلاش نموده اند تشکر ميکنم و بخصوص از آنعده دوستان خيريکه در اين امر خير از نگاه مالی ما را کمک کردند که تعداد شان به ده ها ميرسند.

–از جوانان عزيزيکه با تلاش وجديت فراوان در ترتيب و تنظيم و امنيت اين مجلس سهم خستگی ناپذير داشته اند از نيروهای امنيتی، پوليس، اردو و امنيت ملی و رياست محترم دوه امنيت تشکر ميکنم و همچنان از همه شما خواهران و برادران عزيزيکه از اقصای کشور جهت حضور در اين مجلس تشريف آورده و رنج و تکليف سفر را پذيرا گرديده ايد اظهار امتنان و سپاس نمايم خداوند عزيز قدمهای شما را در حسنات تان محاسبه نمايد خوش آمديد و صفا آورديد.

عزيزان ما در يک برهه حساس و تاريخی قرار گرفته ايم همانطوريکه گفته ميشود نيروهای خارجی تا دوسال ديگر از افغانستان خارج ميگردند وبا رفتن آنها با دو چلنج مواجه خواهم شد.

اول مشکل امنيتی، با وصف تبليغات اجانب و ايادی داخلی شان ما از بابت امنيت و توانائی های نيروهای امنيتی خود چه اردوملی و پوليس ملی وچه امنيت ملی مطمئن ام که ميتوانند از کشور و خاک خود و مردم خويش دفاع نمايد تجارب انتقال نشان داد که نه تنها قدرت دفاع را دارند بلکه بهتر و بيشتر از گذشته اينکار را به وجه احسن انجام داده اند.

اما دومين مشکل مشکل اقتصادی ميباشد ما معتقد هستم تا زمانيکه يک کشور آزادی اقتصادی نداشته باشد به آزادی کامل نميرسد، زمانيکه نان اش را خود تهيه نکند چطور ميتواند آزاد باشد ما از اين بابت جداً آسيب پذير هستم بودجه انکشافی که تماماً حتی بودجه عادی ما ۴۵٪ از کمک های خارجی تمويل ميگردد. با وصف آنکه برای چهار سال ديگر هم کمک های اقتصادی جامعه جهانی در توکيو وعده داده شد و تشويش به بحران رفتن تا اندازه زياد رفع گرديده ولی با آنهم اين معضلهراه حل دوامدار ملی ميخواهد و تا زمانيکه از نگاه اقتصادی روی پای خود نه ايستيم و اختيار مصارف پروژه ها بدست خود ما نباشد هرگز نخواهم توانست به آزادی واقعی و انکشاف اقتصادی مطلوب به مفهوم عام کلمه دست يابيم حزب اسلامی افغانستان معتقد است که دولت، سکتور خصوصی و سياست مداران ما ضرورت به يک وفاق ملی دارد بايد همه در همکاری با هم غرض مقابله با چلنج های که در پيش داريم قرار گيريم تا در تقابل با هم.

و در جهت تحقق اين هدف حزب اسلامی افغانستان از هر نوع مقابله منفی که سبب شود درخواسته های ملی ما مشکل ايجاد گردد ابا می ورزد. ما خواهان وحدت ملی به مفهوم واقعی کلمه هستيم و ترکيب اين حزب پر افتخار از ابتدا تا حال مبين ادعای ماست ما بار ديگر به همه احزاب که به منافع افغانستان و ارمان شهدای ما، ملت رنجديده و زجر کشيده ما به اشک ايتام ما و فرياد های دلخراش مادران فرزند شهيدداده ما، بيوه های مظلوم ما و عقيده و فکر اسلامی ما که يگانه راه و تنها راه نجات ما ميباشد پيشکش برادری و اخوت رامينمايم و حاضريم در همين ارتباط صفوف مان را واحد بسازيم اين جز از رسالت ما در برابر پرودگار و ملت ما ميباشد.

گذشته هرچه بود نميخواهم تکرار شود مسلمانان نبايد از يک سوراخ دوبار گزيده شوسصت۳د.

يکبار متأسفانه نتوانستيم توطئه ها را شناسائی ودفع کنيم دشمنان و معاندين اسلام ما را درگير کردند و عمال داخلی شان به آن آتش بر افروخته، تيل پاشيدند قصور اصلی از همه ما بود که چرا نتوانستيم توطعه ها را خنثی نمايم از نظر ماهمه جنگ های داخلی مردود و محکوم است. حوادث بعد آن نشان داد که ابعاد توطعه چقدر وسيع و دقيق طرح ريزی شده و دشمنان ما زيرکانهدر تطبيق اش کارکرد ولی ما نتوانستيم آنرا تشخيص بدهيم همه گروه ها و احزاب جهادی و غير جهادی مسلح به نحوی در آن تقصير داشتند که نميخواهم از آنها نام ببرم زيرا بار ديگر در آن اختلافات داخل شدن و توجيح کردن غلطی های گذشته در حقيقت به آسياب دشمنان افغانستان آب ريختن است.

برادران و خواهران عزيز حزب اسلامی افغانستان اجازه بدهيد اختصار از فعاليت های حزب رابه محضر گرامی شما پيشکش نمايم الحمدالله حزب اسلامی افغانستان در طول چهار سال گذشته دستاورد های شايانی توجه داشته است در بيست هشت ولايت افغانستان دفاتر حزب اسلامی افغانستان به همت اعضای آن در هر ولايت تأسيس گرديده و در همه ولايات صاحب شورای ولايتی ميباشد تنظيم جوانان حزب سرتاسری و افغانستان شمول گرديده است که با وصف نبود امکانات در نتيجه تلاش جوانان عزيز ما تنظيم قوی شکل گرفته است، تنظيم زنان حزب اسلامی افغانستان با وجود کوتاهی ها و قصور رهبريت حزب که من به آن اعتراف نموده و از خواهران عزيز خود پوزش ميخواهم باتلاش های خواهران ما از با لندکی خاص برخوردار بوده است در انتخابات رياست جمهوری و پارلمانی شرکت فعال و انکار ناپذير داشته و در پارلمان افغانستان حزب اسلامی افغانستان نمايندگی قابل ملاحظه دارد که به همگان واضح است هم در ولسی جرگه و هم در مشرانو جرگه.

عزيزان حزب اسلامی افغانستان حزب عقيده و فکر اخلاص و صداقت است و بر مبنای همين اصول با وصف هيچ بودن امکانات هر فرد آن با امکانات ذاتی و شخصی خود در رشد و فعاليت آن سهم داشته است همين جلسه بزرگ به همت شما حزبی ها و افراد خير و با ايمان تمويل گرديده است جلسه چند روز قبل ما در مزار شريف که از اهميت خاص برخوردار بود وما در آن جا برای همه پيام صلح و برادری و اخوت داشتيم، اثرات و پی آمد های آن خيلی مثبت بوده است. ما به آنچه ميگوئم باورمنديم و به همه پيام دوستی داريم، به جای اختلافات پيام اخوت، نميخواهيم ديگر دشمنان افغانستان را شاد و دوستان افغانستان را غمگين بسازيم در اخير اگر با من موفق هستيد لطف نموده در تائيد نکات زيرين با بلند کردن دست تان مهر تائيد بگذاريد. زيرا سياست و اهداف کلی ما در آن انعکاس يافته است و ضرورت به تائيد همگانی شما دارد تا خط روشن سياست ما ترسيم گردد.

۱- باهمه جناح های که از عقيده اسلامی و منافع ملی افغانستان دفاع ميکنند خواهان وحدت و يکپارچگی صف هستيم همچنان با پاليسی جنگ مخالف بوده و از صلح و پروسه صلح بنابر دستور پرورد گار جداً حمايت ميکنيم.

۲- ما به يک افغانستان اسلامی مستقل آزاد قوی باثبات و دارائی حاکميت ملی باور داشته و خواهان آن بوده و در اين رابطه هيچ نوع انعطاف را نمی پذيريم

۳- بر منافع علیای کشور عزيز خويش در هر حال پافشاری نموده و از ان به قيمت جان و مال خود دفاع ميکنيم ما طرفدار روابط حسنه و دوستانه با همه کشور های جهان بر مبنای روابط احترام متقابل و مساوی مياشيم و روابط برادرانه را با کشور های اسلامی خواهانيم.

۴- عدالت را در همه عرصه ها اساس دانسته و بر عدالت اجتماعی جداً ترکيز و تأکيد مينمايم.

۵- اعاده و رعايت حقوق اسلامی زنان را بخش از پاليسی مبارزاتی خويش ميپنداريم واز آن دفاع مينمايم که متأسفانه تا امروز حقوق آنها در همه عرصه ها پامال گرديده است.

۶- با هر نوع فساد مخالف بوده و مطمئين ايم تا زمانيکه اين پديده شوم در کشور ما وجود داشته باشد نه رشد اقتصادی و نه عدالت تأمين شده ميتواند. بناءً عليه آن به شدت مبارزه ميکنيم.

۷- افغانستان در اصل کشور فقير نيست متأسفانه ما فقر نگهداشته شده ايم بناءً استخراج و انکشاف منابع زير زمينی افغانستان را با مديريت سالم بر مبنای منافع مردم افغانستان خواهانيم.

۸- ما خواهان انتخابات شفاف و عاری از هر گونه مداخله داخلی و خارجی هستيم که متأسفانه در گذشته شاهد يکسری مداخلات هم در سطح داخلی و هم در سطح خارجی بوده ايم.

۹- انتخابات آزاد و شفاف زمانی برگذار خواهد شد که هم قانون انتخابات و هم کميسيون آن با در نظر داشت خواسته های مردم و احزاب سياسی تصيح گردد که لازمه آن تذکره الکترونکی ميباشد بناءً ازحکومت افغانستان ميخواهم تا پروسه توزيع تذکره را هرچه زود تر و سريع آغاز نمايد.

۱۰- حزب اسلامی افغانستان مصميم است تا در انتخابات آينده رياست جمهوری و شورا های ولايتی و پارلمانی با قوت در مشوره با شما عزيزان اجتماع بزرگ حزب اشتراک نمايند، و جهت نيل به اين مأمول کميسيون خاص را وظيفه داده تا چگونگی و امکانات حضور ما را ارزيابی وبعداً در شورا تصميم خواهيم گرفت.

۱۱- غرض حضور گسترده و همه جانبه در انتخابات (من به نمايندگی از شورای اجرائيه حزب) از همه شما برادران و خواهران عزيز ميخواهم تا در گرفتن کارت انتخابات و سهم گيری فعال در انتخابات آينده توجه جدی نمائيد.

۱۲- به مبارزه سياسی و بی امان خويش در پرتو انديشه رهائی بخش اسلامی تا تحقق ارمان شهدا و ملت مظلوم خويش و افغانستان آباد و سرفراز ادامه ميدهم. (و من الله توفيق)

د حزب اسلامي افغانستان په ستره غونډه کې د مجاهد ورور انجنير محمد خان هر کليزه وينا

له حمد او ثناء وروسته :

د حزب اسلامي افغانستان محترم رئيس او د رهبري هيئت محترمو غړو – د ملي پارلمان د معززو مشرانو او اعضاؤ – د کابينې درنو غړو – د دولت د درې ګونو قواؤ عالي رتبه مامورينو – قدرمنو جهادي قوماندانانو – د سياسي احزابو محترمو نمايندګانو – د مدني ټولنې قدرمنو غړو – معززو علماؤ – سپين ږيرو او ځوانانو – په کابل کې د خارجي هېوادو د سفارتونو درنو نمايندګانو – د مطبوعاتو او رسنيو د سترې کورنۍ قدرمنو حاضرينو – درنو خوېندو او ورونو !

السلام عليکم و رحمة الله و بر کاته !

مخکې له هر څه نه پدې درنه او پرتمينه غونډه کې ستاسو ګډون او راتګ ته ښه راغلاست وايم. الله جل جلاله دې ستاسو تشريف راوړل د هر يوه په حسناتو کې محاسبه کړي.

درنو حضارو !

که په يوه سرسري نظر هم د افغانستان روان ناورين ته وکتل شي له ورايه بريښي چې دا د اتلانو ټاټوبئ – دا د شهيدانو په پاکو وينو مينځل شوی وطن – دا د مؤمنو شازلميانو سنګر – دا د کبرجنو امپراطورانو مدفن – دا د سيد جمال الدين، البيروني، ميرويس نيکه، ابدالي، نازو انا، زرغونه انا، ملالی، نيازي، انجنير حبيب الرحمن، مولوي حبيب الرحمن، داکتر عمر، نصرتيار او لس هاؤ نورو نيکه ګانو، اناګانو، خوېندو او ورونو پاک ميراث او د حماسو وطن، دځه لپاره، په کومه ګناه او د کومو مقاصدو لاسته راوړلو لپاره لسيزی – لسيزی د وينو په سيلاب کې لامبو وهي ؟ !

زما مخاطب ته يی ای د شهداؤ وارثه !

زه تاته وايم ای د شهداؤ د ارمانونو پلی کوونکيه !

ماته ووايه دا غرونه – رغونه – ښارونه – کلي او بانډې د کوم هدف لپاره له ځمکې او هوا نه د اوسپنې او باروتو په لوخړو او د اور په لمبو کې لولپه شوي دي.

ای د شهيد هم سنګره ! تاته ياد دی چې ستا د سنګر ملګری د خپل ژوند په وروستيو شيبو کې د خپلو اولادونو د ترببې په اړه – دغه د پاکو او عالي ارمانونو د پلی کولو په رابطه او د وطن د آزادي په حصه کې تاته څه وصيت کړی ؤ ؟

آيا دغه لوړ مقاصد – عالي هدفونه او پاک ارمانونه دې دغه له پاک جسد سره يو ځای تر خاورو لاندې کړل. آيا کله دې هم دغه د بوډا مور او پلار – ځوانی کونډې شوې ميرمنی او يا کوچنيو يتيمانو پوښتنه کړې ده ؟ آيا دغه او لکونو نورو ګډګون کفنه شهيدانو ارمانونه داؤ چې د ټولو قربانيو په نتيجه کې دی، د کمونيزم مکتب او فلسفه د تاريخ د پاڼو برخه شي، د دنيا نقشه دې تغير وخوري، محکوم ملتونه دې آزاد شي، خو د انقلاب په مرکز ګران افغانستان کې دې ځو نورې لسيزې هم د وينو لښتی بهانده پاته شي.

دا هر څه ولې وشول؟ دا زما او ستا ترمنځ د بې باوری او بې اعتمادی په وجه.

زه له تانه تپوس کوم ای د قوم مشره ! – ای د سياسي تنظيم رئيس او رهبره ! – ای د افغان دولت عالی رتبه ماموره – او بالاخره ای افغان غيرتي او مؤمن ملته ! تر څو به ددې خاورې څپک، څپک په بمونو او ماينونو الوزې ؟

تر کومه بېګره ورځ ددې ملک اتباع قرباني ورکوي ؟

تر کله به ددې خاورې بچيان د نا امنی – اختطاف – انتحار – غصب او فسادونو په بحران کې د خواری او ذلت شپې او ورځې تېروي ؟

د افغان با شهامته مؤمن ملت قدرمنو حاضرينو !

ژور سوچ او مسؤولانه فکر وکړئ – زړه سوانده، مصمم او د قوي عزم ګام اوچت کړی. ياد ساتی، د آسيا د زړه – ستا د کور او د اتلانو ددې ټاټوبی د بحرانونو د حل کلي يوازې او يوازې ستاسو په يووالی – اخلاص او يو بل منلنه کې نغښتی ده.

درنو حضارو !

د حزب اسلامي افغانستان رهبري هيئت د روانو سياسي حالا تو له ژور تحليل نه وروسته تصميم نيولی چې د سولې او ټيکاو د منځته راوړلو، ملي يووالی، د فساد د ټولو ډولونو د ختمولو، شفافو او ملت ته د باور وړ ټاکنو د کولو او نورو مهمو ملي مسايلو په اړه له سياسي احزابو – ملي شخصيتونو او مدني ټولنې سره خپلې مشورې شريکې کړی – تر څو د ۲۰۱۴ کال له رارسېدو مخکې د الله جل جلاله په مرسته او د هېواد د مؤمنو – متعهدو او مخلصو تنظيمونو او شخصيتونو په تفاهم او يووالی د هېواد روانو بحرانونو او کړکيچونو ته د حل معقولې لارې ولټوی.

زموږ نن ستره غونډه هم د همدې سلسلې يوه کړی ده چې په مختلفو اړخونو به يې تاسو محترم ګډونوال د درنو مقررينو ځرګندونی واوری.

نور نه غواړم ستاسو او ويناوالو په منځ کې حايل شم.

له توجه نه مو مننه .

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته !

نقش زنان افغان در جامعه

متن سخنرانی خواهر فرزانه واحديار معاون تنظيم زنان حزب اسلامی افغانستان در اجتماع بزرگ کابل

الحمدلله الذی خلق الزوجين الذکر والأنثی، والصلاة والسلام علی من قال: "خيرکم خيرکم لأهله وأنا خيرکم لأهلی" وعلی آله وصحبه اجمعين، و بعد:

هيئت رهبری حزب اسلامی افغانستان، مهمانان عاليقدر و حاضرين گرامی !

السلام عليکم ورحمة الله و برکاته !

اولتر از همه تدوير اين اجلاس عظيم و پرشکوه را با حضور قابل ملاحظه مادران و خواهران برای شورای رهبری حزب اسلامی، تنظيم اسلامی زنان و عمومی منسوبين حزب و مردم افغانستان تبريک و تهنيت می گويم. و از اينکه برايم فرصت داديد تا عرايضم را در اين اجتماع پرميمنت تقديم شما عزيزان نمايم، بسيار ممنونم.

اجازه بدهيد به نمايندگی از تنظيم زنان حزب اسلامی افغانستان مطالب مختصری را پيرامون نقش زن در جامعه امروزی افغانستان خدمت شما تقديم نمايم.

در دين اسلام زن جايگاه بسيار والايی دارد، هم در اجتماع و هم در خانواده. زن سازندهء خانواده است و خانواده کوچکترين واحد اجتماعی جامعه می باشد. بناءً می توان ادعا نمود که زن سازنده جامعه است و قادر است جامعه را به سمت سعادت و تعالی و يا به سمت انحراف و فساد سوق دهد. سهم‌گيری فعال او در فعاليت های اجتماعی - سياسی ضرورت مبرم برای انکشاف و ترقی کشور می باشد.

از سوی ديگر، تا زمانيکه مادر نخستين معلم طفل خود نباشد، مشکل خواهد بود فرزند آگاه و خدمتگار واقعی را به جامعه تقديم نمايد. وظيفه و مسؤوليت مادران نبايد تنها در تدبير منزل يا در چوکات تربيت بدنی کودکان خلاصه و محصور بمانند. اگر خواسته باشيم فرزندان عزيز خود را در برابر تهاجمات فرهنگی و نظامی اجانب وقايه نماييم، ناگزير هستيم نقش مادران را در تربيت معنوی فرزندان شان بپذيريم.

مشکل بزرگ رشد ناسالم فکری اطفال ما در مؤسسات تعليمی کشور ناشی از تفاوت محيط منزل و محيط مکتب است. نبود همآهنگی کامل فی مابين پدران و مادران از يک سو و عدم ارتباط والدين اطفال با ادارات مکاتب و ساير نهادهای تعليمی خلای بزرگی را در تکميل شخصيت شاگردان بوجود آورده است. وجود افراط و تفريط در شيوهء تعليم و تربيه (گاهی توسل با خشونت و گاهی هم بی تفاوتی محض در برابر سلوک و رفتار ناشايسته شاگردان در نهادهای آموزشی) همه و همه ناشی از نبود يک اساس و بنياد درست تربيوی در کشور است. اين خلای بزرگيست که بايد آنرا پر نمود.

جهاد برحق ملت شهيد پرور ما در برابر ابرقدرت غاصب، اتحاد شوروی آنزمان بدون سهم‌گيری فعال مادران و خواهران دلير ما ممکن نبود به پيروزی برسد. نمونه های بارز قربانی و ايثار زنان افغان در مبارزه عليه تجاوزات اجانب در افغانستان بارها در اوراق تاريخ به خط زرين ثبت گرديده است. هزارها و صدها هزار مجاهد دلير که با خون پاک شان از وجب وجب اين سرزمين قهرمان خيز بدفاع پرداختند، در آغوش مادران پاکدل و آزاده اين سرزمين تربيت يافته بودند. بياد داريم مادرانی را که در يک روز شاهد شهادت چند فرزند خود بودند اما خمی به ابرو نياوردند و به شهادت شان باليدند. ضرورت مبرم است تا در آينده هم با تجهيز فکری و دينی چنين مادران از استقلال عقيدتی و تماميت ارضی خويش در برابر هر نوع تجاوز بيگانگان آماده پيکار باشيم.

اسلام عزيز مانع هر نوع تبعيض عليه زن است، ولی مهمتر از همه بايد گفت که وجود تفاوت ها در حقوق زن و مرد از ديدگاه اسلام هرگز تبعيض تلقی نمی شود. آنچه را که اسلام عليه زن نمی پذيرد، ظلم و بی عدالتی است. در حاليکه وجود برخی از تفاوت ها ميان زن و مرد و توجه به آنها در وضع تکاليف و حقوق، عين عدالت است. مقتضای عدالت اين نيست که حقوق زن و مرد کاملاً يکسان باشد، بلکه ناديده گرفتن توانايی ها، تفاوت ها و خصوصيت های تکوينی آنان به ذات خود ظلم و جهل است.

همه ميدانيم که دين مبين اسلام بيشتر از ۱۴ صد سال قبل، يعنی زمانيکه زن از ميراث محروم و زنده بگور می شد، منزلت او را بالا برد. ولی امروز می بينيم که جهان غرب خود را مدافع حقوق زن می داند و با کمال تأسف بايد گفت که عدهٔ از زنان ما از شعار آنها کور کورانه تمجيد و تقليد می نمايند، غافل از اينکه در غرب عملاً به زن به ديده بازيچه و متاع ناچيز می نگرند و کرامت انسانی او را ناديده می گيرند.

سوال در اينجاست که چرا امروز علی الرغم موجوديت زنان تعليم يافته در جامعه ما، هنوز هم عدهٔ زيادی از مردان ما پيرامون نقش زن در جامعه به ديدهٔ شک و ترديد می نگرند؟ بايد صادقانه اعتراف نمود برخی از خانواده ها و اوليای امور در قبال وضعيت نابسامان زنان در کشور کاملاً بی تفاوت اند. خروج بدون اجازه و بدون ضرورت زن از خانه در اسلام جواز ندارد. امروز می بينيم که عدهٔ از زنان ما به اين نکته کوچکترين التفاتی ندارند. وضعيت اسفبار زنان ما در لباس معطر غربی، با چهرهٔ آلوده با مواد کيمياوی و استدلال غير اسلامی آنهاست که فضای اعتماد را در ميان مرد و زن از بين برده و آتش خشم و خشونت مردان را شعله ور می سازد و به ناچار از نقش برازنده و حياتی زن در جامعه چشم پوشی می کنند.

باور دارم در صورتيکه دختران و خواهران مسلمان ما در روشنايی تعاليم اسلامی زندگی خانودگی و اجتماعی خود را فکراً و عملاً تنظيم نموده، حجاب شرعی را رعايت کنند، اعتماد مرد بالای آنها هرگز خدشه دار نخواهد شد.

خواهران و برادران عزيز !

حجاب و پوشش بزرگترين سنگر حفظ عفت و معرف شخصيت زن است. خواهر مسلمان ! شمشير بران توست. نبايد شمشيرت را بر زمين بگذاری. وجوب حجاب برای زنان در قرآن مجيد و احاديث نبوی ثابت است، هيچ جای برای مناقشه و استدلال در برابر اين امر الهی وجود ندارد. سرپيچی از اين حکم بهٔ معنی سرپيچی از احکام اسلام و بالآخره خروج از دايره اسلام است.

از خواهران مؤمن خويش تقاضا دارم تا با همآهنگی کامل با رئيس خانواده در روشنايی تعاليم اسلام و با توجه به حفظ حيثيت خويش در تمامی فعاليت های علمی، تربيتی، اجتماعی و سياسی حزب اسلامی افغانستان، در چوکات تنظيم اسلامی زنان سهم فعال داشته باشند. از همين حالا برای شرکت در فعاليت های سياسی آماده باشيد. بايد نقش ملی خويش را در انتخابات رياست جمهوری و پارلمانی آينده ادا نموده و به هيچ صورت نبايد بی تفاوت بمانيد. اشتراک فعال زنان ما در انتخابات آينده کشور سرنوشت اين سرزمين را رقم خواهد زد. حضور زن در افغانستان اسلامی رمز نجات از توطئه های شيطانی دشمنان دين و ميهن ماست.

ای سرزمين پر افتخار و تاريخی ام افغانستان ! به تو می بالم که هميشه در آغوش خود بهترين سنگرداران اسلام را پروده ای.

افتخار بتو که مادرانی را در خود جا داده ای که در آغوش خويش مجاهدان راه خدا را تربيت کرده اند تا با خون پاک شان از تو حراست کنند.

ای ميهن آزاده گان ! مادران و دخترانت هنوز هم زنده اند، در برابر هر پيغامت لبيک می گويند تا زنده ايم برای آزادی، آبادی و سربلندی تو می رزميم و ترا تنها نمی گذاريم.

زنده باد اسلام - پاينده باد افغانستان

د چنګاښ ۲۲ مه کابل د یوې سترې او تاریخي غونډې شاهد و

دچنګاښ په ۲۲ مه پلازمینه کابل د یوې سترې تاریخي غونډې کوربه و، حزب اسلامي افغانستان د لوی جرګې په تالارکې یوه لویه تاریخي غونډه وکړه چې دحزب اسلامي افغانستان په زرګونو متعهدینو د ملي شورا او کابینې غړو، بهرنی دیپلوماتانو، سیاسي جهادي شخصیتونو او قومي مخورو پکې ګډون کړی و.

دغونډې تالار ته د سهار له اتو بجو نه د خلکو د راتګ بهیر پیل شو او له هرې خوا ځوانان او سپین ږیري پداسې حال کې چې شنه بیرغونه یې په لاسونو کې وو دتکبیر له نارو سره راروان وو، چې دحزب اسلامي دځوانانو له خوا یې تود هرکلی کېده، د غونډې تالار د حزب اسلامي له ولولو نه په ډکو ترانو او شعارونو ازانګې کولې.

دا پرتمینه غونډه دسهار په نهه نیمو بجو د قاضي ملنګ او صدیقي په ویاندویي او د خواږه اواز لرونکي قاري صاحب نورالخبر له خوا د الهي کلام په څو مبارکو آیاتونو پیل شوه، د غونډې پرانیستې او هرکلیزه وینا دحزب اسلامي افغانستان مرستیال محترم ورور انجنیر محمد خان وکړه، د نوموړي دا وینا دومره جذابه او ایمان تازه کوونکې وه چې د غونډې د ګډونوالو له لورې د تکبیر په نارو او ولوله انګېزو شعارونو بدرګه کېده، د وینا مفصل متن به دشهادت په همدې ګڼه کې په بشپړه توګه ولولئ.

د انجنیر صیب له عالمانه او مدبرانه وینا وروسته په ولسي جرګه کې دکاپیسا دخلکو استازي او جهادي شخصیت انجنیر محمد اقبال صافي ته بلنه ورکړې شوه چې دولسي جرګې د رئیس عبدالروف ابراهیمي رالېږلې وینا واوروي، ښاغلي اقبال صافي د ولسي جرګې د رئیس تر وینا وروسته خپلې لنډې خو ارزښتناکې خبرې هم وکړې، صافي زیاته کړه حزب اسلامي افغانستان دهغه خدای پرستو او پر وطن مینو مؤمنانو غورځنګ دی چې دخپل هیواد په ازادۍ کې یې تر بل هرچا زیاته قرباني ورکړې، حزب اسلامي نور له روانو سیاسي جریانانو بې تفاوته نه شي پاتې کیدای، په راتلونکو ټولټاکنو کې به فعاله ونډه اخلي او امیدوار یم چې إن شاء الله تعالی موږ به ستره لاسته راوړنه هم ولرو، ځکه چې حزب اسلامي یوه شفافه ماضي لري، په تېرو یولسو کلو کې دحزب اسلامي هیڅ مشر او کشر نه اداري فساد کې لاس لري او نه هم دهیواد په درې میلیونو غصب شوو ځمکو کې شریک دي، موږ ویاړو چې نه مو بلډینګونه اباد کړي او نه مو ملي شتمنی غصب کړې، خپل ارمان ته ژمن یو او هېڅکله به دخپلو شهیدانو په وینو او ارمانونو سودا ونکړو.

دښاغلي صافي تروینا وروسته دسولې دعالي شورى مرستیال علمي او جهادي شخصیت مولانا عطاء الله لودین دغونډې ګډونوالو ته خپله ارزښتناکه وینا واوروله. مولانا لودین په هېواد کې د سولې په ارزښت او د سولې په روانو جریاناتو رڼا واچوله او ویې ویل: زه د حزب اسلامي د رهبري هیأت او اجرایه شورى مننه کوم چې دهیواد په دې حساسو شرایطو کې یې له ټول هېواد نه د خپل تنظیم تصمیم نیوونکی نماینده غونډه رابللې چې دسولې، ثبات او امنیت په لارو چارو د خپلو مواقفو څرګندونه وکړي، مولانا لودین زیاته کړه سوله او امنیت دبشري ټولنې یو اساسي ضرورت او مبرم حق دی، په کومه ټولنه کې چې سوله نه وي هلته ژوند غیر عادي او د اضطرار په حالت کې وي، نو ویلې شو چې په کومه ټولنه کې سوله، ثبات او امن نه وي هلته به د انسانانو مادي او معنوي حقوق پیمال وي، هلته به فقر، لوږه او مظلومیت حاکم وي، هلته به د قانون او شریعت حاکمیت نه وي، ټول تعمیري، اجتماعي او فرهنګي اساسات به له منځه تللي وي او بالآخره به دټولنې افراد د یو ګونګ راتلونکې په لور حرکت کوي، د پورته اساساتو په نظر کې نیولو سره متأسفانه افغانستان له دریو لسیزو راپدېخوا ددې لوی الهي نعمته بې برخې دی.

د مولانا لودین له عالمانه وینا وروسته د حزب اسلامي افغانستان دسیاسي چارو رئیس ډاکتر صاحب محمد انور لنډه، خو ارزښتناکه وینا وکړه، نوموړي د اسلامي نهضت په تاریخچه او د وخت له طاغوتي نظام سره د اسلامي نهضت د مشرانو پر مبارزه او سربښندنه رڼا واچوله.

ددې غونډې بل ویناوال دشمالي ولایاتو مشهوره جهادي څېره د بدخشان ولایت د جهاد امیر او د حزب اسلامي د رهبرۍ شورى غړی حمدالله دانشي و، ښاغلي دانشي د افغان مسلمان ولس د سربښندنې او میړانې په اړه رڼا واچوله، او په نړۍ کې د کمونیزم رنګېدل د افغانانو افتخار وګاڼه، پر نړۍ والو یې غږ وکړ چې زموږ د ولس د قربانیو احترام دې وکړي ځکه دا هغه ولس دی چې نړۍ ته یې د یو ستر ښکیلاکګر نه نجات ورکړ، هغه څوک چې نن ورځ ځانونه دنړۍ واکمنان بولي پر هغوی یې خوبونه حرام کړي وو، خو دې مسلمان ملت دخپلو سرونو په نذرانه کولو ټولې نړۍ ته نجات ورکړ.

دښاغلي دانشي تر عالمانه وینا وروسته دحزب اسلامي افغانستان دښځو دتنظیم غړې فرزانه واحدیار ته بلنه ورکړې شوه چې خپله وینا واوروي، دیادونې وړ ده چې په یاده غونډه کې یو زیات شمېر خویندو هم ګډون کړی و، اغلې فرزانه واحدیار په ټولنه کې دښځو پر نقش او دیوې مسلمانې ښځې په ارزښت او مسؤلیتونو هر اړخیزه او عالمانه وینا وکړه.

په یاده غونډه کې دنورو ویناوالو ترڅنګ د سولې دعالي شورى مشر محترم صلاح الدین رباني په جنوب غرب حوزه کې دحزب اسلامي پیاوړی جهادي او علمي شخصیت قاضي بسم الله، د ځوانانو دټولنې مشر ډاکټر سیف الدین، د اهل تشیعو په نماینده ګۍ د غزني ولایت پخوانی جهادي قوماندان ښاغلی جویا او د اوزبکو او ترکمنو په استازیتوب دحزب اسلامي پخوانی جهادي قوماندان ښاغلی فیض الله ترکمن وینا وکړه.

د غونډې وروستی ویناوال دحزب اسلامي د اجرائیې شورى غړی استاد عبدالقدیر کریاب و، چې دغونډې قطعنامه یې ولوسته.

په یاده غونډه کې دنورو ترڅنګ دباندینو چارو پخوانی وزیر عبدالله عبدالله، دعدلیې وزیر حبیب الله غالب، دښوونې او روزنې وزیر غلام فاروق وردک ، دتجارت وزیر انوارالحق احدي، د پارلماني چارو وزیر همایون عزیزي، د ګڼو وزارتونو معینانو، مشاورینو، د پکتیا والي او سلاکار وزیر جمعه خان همدرد، دولسي جرګې اول منشي عبدالستار خواصي، او یو زیات شمېر نورو کورنیو او باندینیو میلمنو ګډون درلود.

یاده پرتمینه غونډه دحزب اسلامي ددعوت اوتنظیم د مشر شیخ القرآن مولوی جانباز سرفراز په یوه جامع دعائیه پای ته ورسیده. پاتې دې نه وي چې د میلمنو لپاره غرمنی هم تیاره شوې وه.

پاکستان باید له امریکا سره ...

کبله موږ باید د ۲۰۱۴ کال تر پایه د ناټو ځواکونو په ایستلو کې له امریکا سره همکاري وکړو خو که دوی په افغانستان کې د خپلو ځواکونو د حضور موده زیاته کړه، باید کلک مقاومت ورسره وکړو.»
قاضي حسین احمد دا خبرې د قبایلي سیمو په اړه په یوه کنفرانس کې له ګډونه وروسته وکړې.
(قبایلي سیمې؛ ستونزې او حل لارې یې) کنفرانس د غیرحکومتي موسسو له لورې جوړ شوی و او د قاضي حسین احمد ترڅنګ د دغه ګوند عمومي منشي لیاقت بلوچ او په افغانستان کې د پاکستان پخواني سفیر رستم شاه مومند هم خبرې وکړې.
دوی د امریکا د بې پیلوټه الوتکو له حملو سره مخالفت وکړ او هغه یې په پاکستان کې د بې ثباتۍ سبب وبللې.

تا چند سال دیگر افغانستان از ...

را چند برابر افزایش خواهد داد و این مساله سبب می گردد تا افغانستان به سوی خود کفایی برود.
آقای کرزی می گوید، در کنفرانس توکیو نیز به پیشرفت های افغانستان در سال های اخیر اشاره شد. حامد کرزی تاکید می کند که تا یک دهه، دیگر افغانستان یکی از قدرتمند ترین کشورهای منطقه خواهد بود.
"تا ده پانزده سال دیگر افغانستان در جمله، کشورهای بسیار زور آور این منطقه می باشد. زور آور از لحاظ موقیعت اش، زور آور از لحاظ پیشرفت و ترقی، راه ها، تجهیزات وزیر بنا هایش و زور آور و با قوت از لحاظ ترقی نیروهای امنیتی و دولتی اش."
رییس جمهور کرزی این سخنانان را به روز سه شنبه در مراسمی که به مناسبت فراغت نزدیک به ۵۵۰ افسر جوان پولیس در کابل راه اندازی شده بود، ابرازداشت. آقای کرزی با اشاره به افزایش حملات بالای نیروهای امنیتی افغان گفت که این حملات سبب هراس افغانها و مانع پیشرفت افغانستان نخواهد شد.
رییس جمهور کرزی تاکید کرد که نیروهای امنیتی افغان پس از سال ۲۰۱۴ قادر به تامین امنیت کشور خواهند بود و از مردم افغانستان خواست تا از آنان حمایت کنند. وی همچنان از نیروهای پولیس تقاضا کرد تا از گرایش های سیاسی به دور بوده و متوجه اجرای وظایف شان باشند.
از سوی دیگر حامد کرزی می گوید، افرادی که حملات انتحاری را در افغانستان سازماندهی می کنند، فراموش افغانها نخواهند شد.

د پاکستان جغرافیایي هدفونه نه...

د خلکو د مظاهرو، ناوړه اقتصادي حالت او په افغانستان او پاکستان کې د سخت دریځو د بریدونو یادونه کړې ده.
ورځپاڼه وایي په پاکستان کې دا بې مانا جګړه او جنجال په داسې حال کې روان دی چې د دغه هیواد اقتصاد ورځ په ورځ خرابېږي، خلک د اوبو او برېښنا د کموالي په خاطر اعتصابونه کوي او د سخت دریځو حملې هم په پاکستان او هم افغانستان کې په ډېرېدو دي.
په عین حال کې د پاکستان پوځ او استخباراتو، چې د ملکي حکومت پر ناسمو اقداماتو یې خوله پټه کړې، د هغو سخت دریځو ډلو ملاتړ ته دوام ورکړی چې په افغانستان کې د ناټو او افغانستان پر ځواکونو حملې کوي.
واشنګټن پوسټ وایي د پاکستان پوځ او استخباراتي ادارو د سخت دریځو ډلو په ملاتړ ولسي حکومت دې ته نه دی پرې ایښی چې د اقتصادي وضعیت ښه کولو ته پام وکړي.
همداراز د پاکستان رسنی په لویه پیمانه د پوځ تر اغېز اونفوذ لاندې امریکایي ضد احساساتو ته لمن وهي.
ورځپاڼې په پای کې لیکلي، ښایي امریکا د پاکستان له پوځ سره په یو نارامه حالت کې وي.
داسې ښکاري چې د پاکستان پوځ د افغانستان او هند لپاره طالبان د وسیلې په توګه استعمالوي.
واشنګټن پوسټ نتیجه اخلي، تر څو چې په پاکستان کې جمهوري حکومت او ولسواکي نه وې غښتلې شوې تر هغو پورې به امریکا د یوې داسې پالیسی غوره کولو ته مجبوره وي چې کله ممکنه وي له دې هیواد سره به معامله کوي او چې نه وي مخ به ترې اړوي.

د ټولو ستونزو اساسي... (شعار)
شهادت (اونیزه)
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "محمد خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• د رالیږل شوي مطالب نه مسترد یږي . بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

ډیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه ـ کابل ـ افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com